PASCHTU

# د کوروناواکسین په اړه معلوماتي پاڼه

**د کورونا ویروس**
د کورونا ویروس (2-SARS- COV) له انسان څخه بل انسان ته خپرېږي او د COVID 19ناروغۍ رامنځته کوي. یاده ناروغي ټول وګړي، په هرعمرچې وي، ناروغه کوي.
دکورونا ناروغي نښې نښاني تبه، ټوخی، سالنډي او د خوړو د خوند احساس له منځه تلل دي چې له څو ورځو تر څواونیو دوام کوي.
د ناروغۍ بهیر هغه مهال سخت او جدي کېږي چې د ناروغ تنفسي لارې او دبدن نوراعضاء التهابي پاړسوب ولري، پدې وخت کې اړینه ده چې د ناروغ درملنه د روغتون په بېړني سرویس کې وشي.
کېدای شي د کورونا ناروغي اغېزې تر ډېرې مودې بدن کې پاتې شي او یا هم د ناروغ د مړینې لامل شي. د کورونا ناروغۍ په وړاندې تر ټولو غوره مخنیوی واکسین دی.

**ولی باید واکسین شئ؟**
واکسین تاسو د کوید ۱۹ ناروغۍ له سخت یا خطر ناک حالت څخه ژغوري.

**واکسین څنګه په بدن کې تاثیر کوي؟**
واکسین ستاسو بدن دې ته تحریکوي چې د ویروس پر ضد معافیتي توکي ( انتي باډي) جوړ کړي. کله چې ستاسو بدن ته د کوید ۱۹ ویروس (-2-SARS-CoV) ننوځي نوجوړه شوې انتي باډي تاسو د ناروغۍ له شدید حالت څخه ژغوري. پدې ترتیب واکسین تاسو تر ۶میاشتو د ناروغۍ له سخت یا خطرناک حالت څخه ساتي. په استثنایي توګه واکسین شوي وګړي هم پر کوید ۱۹ ناروغۍ اخته کېږي خو د ناروغۍ بهیرکمزوری اود مړینې مخنیوی شوی وي.
په واکسین کې د COVID ۱۹ ناروغي ویروس نشته، له همدې امله دواکسین له لارې تاسو پر د کوید ۱۹ ناروغي نه اخته کېږئ .

**واکسین باوري او مطمئن دی؟**
هو، واکسینونه آزمویل شوي او تصدیق شویدی. باوري او اغېزمن دي. په اروپا کې د کوید۱۹ ټول واکسینونه چې کارول کېږي، په بشپړه توګه ازمویل شوي اولدې وروسته به هم په جدي توګه کنترول شي. له همدې امله دواکسینونو جوازد اروپا د درملو ادارې له خوا ورکول کېږي.

**څوک واکسین کیدی شي؟**
د ۵ کلنۍ له پیل څخه کولی شي واکسینونه ولګو. په زړې ناروغیو ( لکه د وینې لوړ فشار، د شکرې او زړه ناروغي او سا لنډي ) اخته وګړي هم کولی شي ځان واکسین کړي. هغوی کولای شي لومړی له خپل معالج ډاکټر سره پدې اړه خبرې وکړي اود هغه له مشورې سره سم پرېکړه وکړي.
همدارنګه هغه څوک چې الرژي یا حساسیت ولري ( لکه د خوړو سره، دګلانو د ګرد ، د کورګرد اود انتي بیوتیک په وړاندې حساسیت) هم کیدای شي واکسین شي، ځکه په واکسین کې داسې څه نشته چې حساسیت رامنځته کړي . کله چې له خپل ډاکټر سره د ځان وا اکسین لګولو په اړه مشوره کوئ د حساسیت موضوع هم ور یاده کړئ اوله ځانه سره د خپل حساسیت ځانګړی کارت هم ولرئ.

**څوک باید واکسین نشي؟**
کله چې تاسو یوه سخته، حاده میکروبي ناروغي ولرئ او تبه موله ۳۸ درجو لوړه وي ، باید تر واکسین لګولو د مخه له خپل معالج ډاکټرسره وغږېږئ.
همدارنګه که حمل لرئ، یا ګمان کوئ چې حمل لرئ او یا د ماشوم لرولو پلان ولرئ، پدې اړه د واکسین ترمخه له خپل ډاکټر سره خبرې وکړئ. اوکه چېرې تاسو همداوس پر کوید ۱۹ ناروغي اخته یاست، د PCR لومړۍ مثبتې نتیجې وروسته تر ۴ اونۍ پورې اجازه نلرئ چې واکسین شئ.
هغه وګړي چې دکوید۱۹ناروغي یې تېره کړې وي، باید واکسین شي؟
چاچې د کوید ۱۹ ناروغي تېره کړې وي، کیدی شي بیا پرې اخته شي. لدې امله باید نوموړي وګړي هم واکسین شي. خو واکسینېشن باید ۴ اونۍ له ناروغۍ وروسته تر سره شي.

**چېرته او څنګه کولای شم ځان واکسین کړم؟**
واکسینېشن په بیلابیلو ځایونو کې ترسره کېږي. دا چې څه وخت او چېرته ځان واکسین کړئ؛ پدې اړه تاسو ته په خپل وخت خبردرکول کېږي.

**د واکسینېشن ټول بهیر څنګه ترسره کېږي؟**
واکسین لګول د هر چا د خوښې کار دی. اوپه وړیا توګه ترسره کېږي. مخکې تردې چې د واکسینېشن ځای ته ورننوځئ، تاسو ته یوه فورمه ( د لاربښوونې فورمه) درکول کېږي، چې باید ډ که یې کړئ او که چېرې کومه پوښتنه لرئ، له ډاکټر سره پرې وغږېږئ.
لطفا د واکسین کولو لپاره خپل د صحي بیمې کارت او د واکسین کتابچه ( که لرئ یې ) له ځانه سره یوسئ. دواکسین عمل دستاسو د لاس پر مټ(بازو) دیوې پیچکارۍ پر لګولو ترسره کېږي. پدغه ستنه یا پیچکارۍ کې د واکسین مواد وي. وروسته لدې چې واکسین شوئ ، تقریبا ۲۰ دقیقې هلته پاته شئ. که چېرې ځان ښه نه احساسوئ، د هغه ځای ډاکټریا طبي پرسونل ته خبر ورکړئ.
ډول ډول واکسینونه شته چې په څو برخو( پړاونو) کې ورکول کېږي.د لومړي او دوهم واکسین ترمځ باید ۲۱ ورځې تېرې شوي وي. ددې لپاره چې دویم واکسین تازه شي، نودرېیم واکسین کیدای شي د څلورمې میاشتې له پیل څخه ولګول شي، مګر وروستۍ موده یې ۶تر میاشتو ټاکل شوې.

Stadt Wien | Gesundheitsdienst

**کولی شم د واکسین ډول پخپله ځانته غوره کړم؟**
نه، تاسو ته هغه واکسین لګول کېږي کوم چې موږسره موجود وي. داچې کوم ډول به له موږ سره شتون ولري تراوسه پرې نه پوهېږو.
**آیا د کوید ۱۹ واکسین ناوړه تاثیرات (جانبي عوارض) لري؟**
واکسین کولی شي ناوړه جانبي اغېزې ولري. دبېلګې په توګه د ستنې ځای خوږېږي، هلته سوروالی او پړسوب لیدل کېږي. له واکسین کولو وروسته د پر ځلې سر ی ځان ستومانه احساسوي، سر یې خوږېږي او یا تیټه تبه لري. همدارنګه د زړه بدوالی، استفراغ اود سړه تبې پیښې هم لیدل کیږي.
پورته جانبي تاثیرات د واکسین په وړاندې یو ډول نورمال عکس العمل دي. لامل یې دادی چې بدن د مرض د مکروب په وړاندې د دفاع لپاره تیاری نیسي. نوموړي جانبي تاثیرات اکثراً وروسته له څو ورځو لرې کېږي. له لسوټنو واکسین شویو څخه څه د پاسه یو تن ته یادې ستونزې را منځته کېږي.

**سر بېره پر دې چې واکسین شوی یم باید 2FFP ماسک استعمال کړم؟**
سره لدې چې تاسو واکسین کړی، خو محافظتي مقرارت لکه د 2FFP ماسک استعمال، دحفظ الصحې مقررات او د واټن یا فاصلې ساتل باید مراعات کړئ .

<u>نور مالومات په لاندی لینکونو کې موندلئ شئ :</u>

https://www.sozialministerium.at/Corona-Schutzimpfung/Corona-Schutzimpfung---Haeufig-gestellte-Fragen.html
https://www.sozialministerium.at/Informationen-zum-Coronavirus/Coronavirus---Aktuelle-Informationen-in-Fremdsprachen-.html
https://www.sozialministerium.at/Corona-Schutzimpfung/Corona-Schutzimpfung---Jetzt-anmelden-/Faktencheck-zur-Corona-Schutzimpfung.html